# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۲۵مه | د ۲۰۱۹ د جنوري ۱۵مه | دویم کال | ۳۱۸مه ګڼه

2 017550 139621


## څېره

۴ مخ




# له ځنډ، ناندریو او تورونو وروسته د کابل د ټاکنو پایلې اعلان شوې





د ټاکنو لومړنۍ پایلې او لومړنی تصویر — ۲ مخ

ایا د پښتون ژغورنې غورځنګ بل بنګله دېش ته لار هواروي؟ — ۲ مخ

کابل کې د برېښنا پارچاوې او د چارواکو لاروکې — ۳ مخ


## په لغمان کې د ۵۰ میلیونو افغانیو په لګښت پروژې پرانیستل شوې



د لغمان ولایت چارواکي وايي، د دغه ولایت په مرکز مهترلام کې د پنځوسو میلیونو افغانیو په لګښت دوې پروژې بشپړې او د دوو نورو کار پیل شو.

د چارواکو په خبره، په دغو پروژو کې استنادي دېوالونه، سربندونه او کانالونه شامل دي چې د سیمې زرګونو اوسېدونکو ته به یې ګټه ورسېږي.

د دغه ولایت د والي ویاند اسدالله دولتزي ویلي چې یادې پروژې د والي اصف ننګ او ځینو نورو مسوولینو له لوري پرانیستل شوې.

هغه زیاته کړې، په دغو پروژو کې د پل جوګي سیمې استنادي دېوال او د پاچا جوی د سربند رغول او د پاچا جوی او څوارده سیمو د کانالونو د رغونې د لړۍ پیل شامل دي.

دولتزي ویلي، د دوو نورو پروژو کار هم پیل شوی چې د پاچا جوی پر کانال ٦ میلیونه او ٦١٠ زره افغانۍ او د څوارده پر کانال ٨٣٥ زره افغانۍ لګښت راځي.

## وکیلان: د ټاکنو اوسنی بهیر پخپله حکومت له بحران سره مخ کړی

په ټاکنیزو کمېسیونونو کې د ستونزو په تړاو د ولسمشر د دویم مرستیال سرور دانش تر څرګندونو وروسته، د ولسي جرګې غړي د یادو ستونزو اصلي عامل پخپله د کمېسیونونو په چارو کې د حکومت مداخله بولي.

وکیلانو د جرګې د دوشنبې ورځې په ناسته کې وویل، له کومې ورځې چې حکومت په ځانګړي ډول د ولسمشر دویم مرستیال سرور دانش د کمېسیونونو په چارو کې مداخله پیل کړې، د کمېسیونونو استقلالیت یې تر پوښتنې لاندې راوستلی دی.

وکیلانو وویل، ټاکنیزه پروسه وروسته له هغې بحراني شوه، کله چې حکومت د ټاکنو خپلواک کمېسیون له کمېشنرانو څخه استعفا لیکونه واخیستل.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون پر کړنو د ولسي جرګې او د ولسمشر د دویم مرستیال سرور دانش تر څرګندونو ورهاخوا، اجرایه رییس هم د کمېسیونونو پر کړنو نیوکه کړې.

عبدالله عبدالله ویلي، که د افغانستان نفوس د چین د جمعیت په اندازه وای، د ټاکنو پایلې به د قیامت په ورځ اعلان شوې وای.

د ټاکنو پر خپلواک کمېسیون د حکومتي چارواکو دغه نیوکې داسې مهال کېږي چې د راپورونو له مخې ویل کېږي، د ولسي جرګې د پایلو تر اعلان وروسته به د کمېسیون د مدیریت تر کچې پراخل تغیرات رامنځته شي.

## ایران: له داعش سره د مبارزې په موخه له طالبانو ملاتړ کوو



۲ مخ

## خلیلزاد در ادامه تلاش‌های صلح، پس از هند به چین رفته است



زلمی خلیلزاد نمایندۀ خاص امریکا برای صلح افغانستان، به ادامه تلاش هایش در مورد صلح، وارد چین شده است.

خلیلزاد در صفحۀ تویتر خود نوشته است که در بیجینگ، با مقامات چینایی در مورد صلح افغانستان و موضوعات دیگر گفت‌وگو می کند.

وی ابراز امیدواری کرده که با کشور چین، برای صلح افغانستان مشترکاً کار کند.

نامبرده در تویت دیگر خود نوشته است که قرار بود پس از سفر هند عازم کابل شود؛ اما به دلیل خرابی هوا پرواز وی لغو شد.

خلیلزاد قبل از سفر به چین، در امارت متحدۀ عربی با داکتر حمدالله محب مشاور شورای امنیت ملی افغانستان و لطف الله مشعل سفیر افغانستان در اسلام آباد، به طور جداگانه ملاقات کرده است، اما موصوف در مورد این ملاقات‌ها جزئیات نداده است.

خلیلزاد طی سفر سه روزۀ هند، با وزیر خارجۀ این کشور، در مورد صلح افغانستان گفت‌وگو کرده است.

در این اواخر تلاش‌ها برای صلح افغانستان بیشتر شده و خلیلزاد پس از هند، به کشور چین رفته است.

از سوی دیگر، حمدالله محب مشاور امنیت ملی افغانستان؛ پس از سفر هند، چین و امارات متحدۀ عربی به عربستان سعودی رسیده که با سران این کشور، درمورد صلح افغانستان بحث کند.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY
2019
Shigal English Academy
COMING SOON...

دریځ

## د ټاکنو لومړنۍ پایلې او لومړنی تصویر

ټاکنو کمېسیون وتوانېد چې د ولسي جرګې د ټاکنو پاتې پایلې هم اعلان کړي. کمېسیون پرون د کابل او د کوچیانو د حوزو د ټاکنو پایلې اعلان کړې. د لومړنیو پایلو تر اعلانېدو وړاندې، د پراخو درغلیو له امله د کابل رایې له سره وشمېرل شوې. وروسته د څو مرکزونو رایې دویم ځلي وشمېرل شوې، خو لا هم په دې تړاو شکایتونه او نیوکې شته. د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون چې د کابل ټاکنې یې باطلې اعلان کړې وې، لا هم وایي چې دوی نه دي قانع شوي او د کابل د ټاکنو د باطلولو پرېکړه یو مخ نه ده لغوه شوې.

د ټاکنو کمېسیون له خوا اعلان شوې لومړنۍ پایلې او بیا په ځانګړي ډول د کابلې پایلې ښیي چې دا پایلې د سیاسي زورواکو او تورو پیسو لرونکو ګډه سیالي وه چې اوس یې روښانه تصویر لېدل کېږي. په ولایتونو او کابل کې ډېر نوي کسان بریالي شوي، خو لویه برخه یې هغه کسان دي چې یا سیاسي او حکومتي زور لري او یا هم ډېرې پیسې لري. ډېری بریالي شوي کسان تورو پیسو والا دي چې ویل کېږي هم یې د ټاکنو پر مهال میلیونونه ډالر لګولي دي او هم یې له هغه وروسته د بیا شمېرنې پر مهال ډېرې پیسې لګولې دي. ویل کېږي چې په کابل کې د بریا قیمت معلوم و او په بریالیو کې ډېری داسې کسان شته چې روښانه معلومېږي، د پیسو په بدل کې راغلي دي. د ټاکنو کمېسیون پر غړو او نورو کارکوونکو د پراخو درغلیو، فساد او بډو اخیستو تورونه هم دي. د ځینو په اړه یې اسناد او شواهد هم شته. دا هم ویل کېږي چې ځینې اسناد او شواهد به د دغو رایو له اعلان وروسته را ووځي. ویل کېږي چې ځینې کاندیدان منتظر دي چې د شکایتونو کمېسیون به یې حق ورکړي، خو که دا ونه شي، نو دوی به خپل اسناد او شواهد له رسنیو سره شریک کړي.

اوس د شکایتونو د کمېسیون وار دی. که څه هم پر شکایتونو کمېسیون له وړاندې د ارګ او اجرایه ریاست سیوری خور دی، خو بیا هم ځینې کسان ورته هیله من دي. د شکایتونو کمېسیون په تړاو نظرونه هغه وخت زیات منفي شول چې په کمزورو دلایلو یې د کابل ټاکنې باطلې اعلان کړې، خو بیا د ارګ او بهرنیانو فشار ته تسلیم شول او خپله پرېکړه یې بېرته واخیسته. اوس هم ښایي د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته د فساد، درغلۍ او ناقانونۍ اسناد ورشي، خو دغه کمېسیون به عدالت تامین نه شي کړلی. د شکایتونو کمېسیون هم دوې سترې کمزورۍ لري، لومړی دا چې دوی هم په فساد کې ښکېل دي. د دوی د فساد په اړه هم اوازې شته او ان ځینې کسان نیول شوي چې د شکایتونو کمېسیون د غړو په استازیتوب یې پیسې اخیستې. د شکایتونو په کمېسیون کې ځینې کسان اوس هم تمه لري چې پیسې به واخلي. له بله اړخه دوی د ارګ، اجرایه ریاست او بهرنیانو تر ژور اغېز لاندې دي. له همدې امله له دوی هم د عدالت تمه نه شي کېدلای.

په ټوله کې د ملي یووالي حکومت او د دوی له خوا جوړو شوو کمزورو، مفسدو او بې کفایته کمېسیونونو د افغانانو یوه بله ملي پروسه هم خرابه کړه او پنځه کاله یې بیا ځینې زورواکي او پیسه واکي پر خلکو د وکیلانو په توګه وتپل.

# ایا د پښتون ژغورنې غورځنګ بل بنګله دېش ته لار هواروي؟

ژباړه : لطف الله لطف

که د پښتنو پر غوښتنو غور و نه ګرول شي، نو پاکستان به د اړو- دوړ لمن ته ټېل وهل شي.

تېر کال په همدې ورځ د نقیب الله مسید په نوم ځوان د پاکستان په سویلي ښار کراچۍ کې د پولیسو له لورې په یوه جعلي نښته کې ووژل شو. په لومړي سر کې پولیسو ادعا کوله چې مسید د پاکستاني طالبانو د غورځنګ سخت دریځه غړی و او د دوی له لوري د ترهګرو پر یو پټنځي د برید په ترځ کې ووژل شو.

د پولیسو د ادعا برعکس، د مسید کورنۍ، ملګرو او د بشري حقونو ځینو سازمانونو د پولیسو ادعا رد او زیاته یې کړه چې نوموړی یو بېګنا هڅیوال او د ځوانانو لپاره هیله بښونکې مخبېلګه وه. د ابهام د له منځه وړلو په موخه پاکستاني حکومت د څېړنو امر وکړ. د پولیسو یوې ځانګړې ډلې د پېښې د څېړلو پر مهال داسې کوم ثبوت پیدا نه کړ، چې له ترهګرۍ سره د دې مسید د تړاو الزام کره کړي. له همدې امله د څېړنو ډله دې پایلې ته ورسېده، چې مسید د راو انوار په مشرۍ پولیسو سره د جعلي نښتې پر مهال وژل شوی دی. ځینې موسسې پر دې باور دي چې ډېری وخت جعلي نښتې د پاکستان د امنیتي ځواکونو له لوري رامنځته کېږي. راو انوار چې د مسید پر وژلو تورن و، د پولیسو له لوري ونیول شو او تر اوسه یې محاکمه روانه ده.

پخوا دېته ورته د محکمې له امر پرته وژنې او په اړه یې تورونه د امنیتي ارګانونو او ادارو له لوري له پامه غورځول کېدل او عاملین به یې سرې سترګې ګرځېدل. د دغه دستور برعکس، د مسید د وژلو قضیې بل لوری خپل کړ. د مسید په پلرني کلي (د وزیرستان په مکین) کې یوه کوچنۍ بهیر (د پښتون ژغورنې غورځنګ) حکومت اړ کړ چې چټک ګامونه پورته کړي.

د بشري حقونو د فعال او مدافع منظور پشتین له لوري د پښتون ژغورنې غورځنګ رامنځته شو، چې د پښتنو له حقونو څخه دفاع وکړي. پښتانه دا مهال په پاکستان کې دویم ستر قوم دی چې د پاکستان په شمال لوېدیځ کې د ډیورنډ کرښې ته څېرمه پراته دي.

له تېرو دوو لسیزو راهیسې په سیمه کې یوازې پښتانه د ترهګرۍ پر ضد د جګړې په اور کې سوځي. د سپټمبر له پېښې وروسته چې امریکا او ملګرو یې پر افغانستان برید وکړ، د ترهګریزو شبکو یوشمېر غړو چې هغه مهال یې په افغانستان کې فعالیت کاوه، پاکستان ته واوښتل او هلته یې په پښتون مېشتو سیمو کې ځانونه پټ کړل. په همدې پلمه پاکستاني پوځ عملیات پیل کړل چې سیمه له ترهګرو پاکه کړي. خو د دې پر ځای چې د ترهګرۍ پدیده له منځه یوسي، د پاکستاني پوځ د عملیاتو په ترڅ کې یوازې د سیمې بېګناه استوګن قرباني شول. سره له دې چې پښتانه د ترهګرۍ ضد جګړه کې د لومړۍ کرښې قربانیان وو، خو بیا هم ورته د پاکستان په مختلفو سیمو کې د ترهګرو په سترګه کتل کېدل.

**د عدالت غوښتل**

په کراچۍ کې د مسید له وژلو وروسته منظور پشتین له وزیرستان څخه د اسلام اباد په لور لاریون رهي کړ. پلازمېنې اسلام اباد ته د پښتون لاریون زرګونو پښتنو بدرګه کړ، دوی غوښتل چې یوازې د مسید لپاره نه، بلکې د ټولو هغه پښتنو لپاره د حق چیغه پورته کړه چې په پاکستان کې د تبعیض ښکار شوي.

همدا لاریون په چټکۍ د حق غوښتنې په یو ملي غورځنګ بدل شو، چې له خېټې یې د پښتون ژغورنې غورځنګ وزېږېد. د پاکستان په مختلفو سیمو کې د لاریونونو پر مهال به پښتون او ملګرو یې د دوی له سیمو څخه د ترورېزم د له منځه وړلو په پلمه د پاکستاني پوځ د عملیاتو د ناکامۍ د لاملونو په اړه پوښتنه کوله. د دوی بنسټیزه پوښتنه دا وه چې ایا پاکستاني پوځ په رښتیا غوښتل د پښتنو سیمې د ترورېستي ډلو له شتون نه پاکې کړي.

د پښتون ژغورنې غورځنګ د پاکستان په پوځ تور پورې کاوه چې ګوندي ترورېستي ډلو سره مرسته کوي. د همدې لپاره به یې د لاریونونو پر مهال دا شعار (د ترورېستي فعالیتونو تر شا د پاکستان پوځ دی) زمزمه کاوه.

د پښتون ژغورنې غورځنګ همدا راز غوښتنه وکړه چې له قضایي پروسې پرته د ټولو وژنو په اړه دې ناپېیلې څېړنې وشي او د پوځ او استخباراتي ادارو له لوري د خلکو د تښتولو چاره دې بنده شي. پر دې سربېره، پښتون او ملګرو یې په پاکستاني حکومت فشار زیات کړ چې په قبایلي سیمو کې دې د ځنګل قانون ته د پای ټکی کېږدي، ځکه چې یاد قانون له بنسټیزو بشري حقونو سره په ټکر کې دی. په قبایلي سیمو کې د پاکستان حکومت داسې قانون کاروي، چې د یو شخص د ناسمو کړنو له امله ټوله کورنۍ، کلی یا قبیله سزا وېني.

د دې پر ځای چې د پښتنو رښتینې ګیلې او شکایتونه واوري، د پاکستان حکومت د غورځنګ د مهمو کسانو د نیولو لړۍ پیل کړه. پاکستاني رسنیو د غورځنګ غونډو ته د پوښښ ورکول بند کړل. د غورځنګ ډېری غړي او مشران د پولیسو له لوري ونیول شول. د پښتون ژغورنې غورځنګ ځینو مشرانو ته اجازه نه ورکول کېده چې د پاکستان ځینو سیمو ته د غونډو لپاره لاړ شي. په دې وروستیو کې د غورځنګ ځینې مشران ممنوع الخروج هم اعلان شوي دي.

د پوځي مطبوعاتو ویاند اصف غفور رسنیو سره د خبرو پر مهال تور پورې کړ چې ګوندې پښتون غورځنګ د بهرنیو کړیو په مټ د پاکستان ضد اجنډا پر مخ وړي. د یادولو ده چې پاکستانی پوځ د معترضینو د کمزنګه کولو په موخه تل دا ډول تورونه د وسیلې په توګه کاروي.

خو د یاد غورځنګ د محدودولو او خاموشه کولو هڅو ناوړه پایلې رامنځته کړې. د غورځنګ د غړو د ځورولو د کمپاین په پایله کې د پښتون ژغورنې غورځنګ نور هم وځلېد،مطرح شو او د خواخوږو شمېر یې ورځ تر بلې زیاتېږي

په داسې حال کې چې د پښتنو غورځنګ د تل لپاره د عدم تشدد فلسفې ته د ژمن پاتې کېدو ژمنه کوي، داسې وېره شته چې د پوځ له لوري د سختو تکتیکونو کارول به د غورځنګ داسې غبرګون راوپاروي چې د وخت په تېرېدو به له کنټرول نه ووځي چې یاد وضعیت په پاکستان کې مخینه هم لري.

**له پخوانیو تېروتنو زده کړه**

پخوا هم د حق غوښتلو په موخه ورته غورځنګ په ختیځ پاکستان کې سر راپورته کړی و چې بالاخره له پاکستان څخه د ازادۍ په غورځنګ بدل شو او په پایله کې په ۱۹۷۱ ز کال کې بنګلادېش د نوي هېواد په بڼه راوټوکېد.

د شپېتمو کلونو پر مهال بنګالیان د پاکستان په ختیځ کې اوسېدل، هغه مهال دوی د پاکستان تر ټولو ستر اتنیکي ګروپ و، خو د ایوب خان په مشرۍ د مرکزي حکومت له لوري له پامه غورځول شوي وو. د دې پر ځای چې مرکزي حکومت یې روا او رښتینې غوښتنې ومني، پاکستاني پوځ د دغه ځپل شوي پاړکي پر ضد عملیات پیل کړل. دې چارې بنګالیان اړ کړل چې پوځي مقاومت پیل کړي او له پاکستانه جلا شي.

داسې ښکاري چې د پاکستان نخبه پاړکي له تېرو پنځوسو کلونو کوم درس نه دی زده کړی، ځکه اوس هم داسې تېروتنې تکراروي چې درد، د وینې تویدل او د اوبایمې لسیزې پر مهال یې پاکستان له نه جبرانېدونکي تاوان سره مخ کړی و.

په داسې حال کې چې د پښتون ژغورنې غورځنګ نن د خپلې مبارزې د بشپړېدو اول کال لمانځي، د پاکستان پوځي او ملکي اداره باید د پښتنو رښتینې غوښتنې ومني، ځکه د دوی هره غوښتنه د اساسي قانون د روح سره برابره ده. دوی باید په چټک ډول د هغو پښتنو د محاکمه کولو لړۍ بنده کړي چې خپل بنسټیز حقوق غواړي.

که دا کار ونه شي، د پښتون ژغورنې غورځنګ کولی شي د پاکستان د وېش لپاره په کتلست بدل شي او ټول ملک له بلې بدمرغۍ سره مخ کړي.

## اجرایه رییس: ولسمشریزې ټاکنې د تخنیکي ستونزو له کبله ځنډول شوې دي



اجرایه رییس عبدالله عبدالله د ولسي جرګې د ټاکنو د پایلو په اعلان کې ځنډ او د ولسمشریزو ټاکنو د ځنډېدو لامل تخنیکي ستونزې بولي.

عبدالله تېره ورّځ په سپېدار ماڼۍ کې د وزیرانو شورا له غونډې مخکې رسنیو ته وویل، د ولسي جرګې په ټاکنو کې د ځینو ستونزو له امله د دغه جرګې پایلې وځنډې دي.

نوموړي زیاته کړې: «کله نا کله په انتخاباتو کې د ځنډ موضوع ته د سولې مذاکراتو سره تړاو ورکول کېږي، خو حقیقت دا دی چې یو لړ تخنیکي ستونزې په ولسمشریزو انتخاباتو کې د ځنډ لامل شوې چې نښې نښانې یې هم موږ او تاسو وینو. له بده مرغه پارلماني ټاکنې هم له ستونزو سره مخ شوې چې دلایل یې معلوم دي.» عبدالله دغه څرګندونې داسې مهال کوي چې وړمه ورځ د ولسمشر دویم مرستیال سرور دانش د حقوقي مرستو ملي کنګرې ته د وینا پر مهال وویل چې د ټاکنیزو کمېسیونونو د کار د څرنګوالي له امله د حکومت حیثیت او اعتبار تر پوښتنې لاندې راغلی دی.

نوموړي د هېواد ټاکنیز کمېسیونونه له هغو بنسټونو وبلل چې په خبره یې، نه یوازې دا چې خپله دنده یې په ښه شان نه ده تر سره کړې، بلکې د خلکو په حق کې یې هم جفا کړې ده. د ټاکنو پر کمېسیون دا نیوکې په داسې حال کې کېږي چې د ولسي جرګې د ټاکنو ټولې لومړنۍ پایلې تر درې میاشتنې ځنډ وروسته پرون اعلان شوې.

دانش دغه راز ویلي، که په ټاکنیزو کمېسیونونو کې اصلاحات رانه شي، نو د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو پایلې به له تېرو پارلماني ټاکنو هم بدې وي.

که څه هم حکومت په کمېسیونونو کې د بدلونونو په اړه تر دې مهاله په رسمي توګه څه نه دي ویلي، خو ځینو باوري حکومتي سرچینو ازادي راډیو ته ویلي چې د ولسي جرګې د ټاکنو د پایلو له اعلان سره سم به د کمېسیونونو په رهبرۍ کې هم بدلون راشي.

خو له دې ټولو سره سره، د ټاکنو خپلواک کمېسیون له سیاسیونو او خلکو غواړي چې پر کمېسیونونو د فشار پر ځای، له دوی سره همکاري وکړي، څو دغه ملي بهیر په سمه توګه مدیریت او پر مخ لاړ شي.


## د کندوز معترض نوماندان: که غوښتنې مو ونه منل شي، ټولې دولتي اداري تړو

په کندوز کې د ولسي جرګې معترضو نوماندانو او پلویانو یې د ټاکنیزو کمېسیونونو پر ضد لاریون وکړ او دغه راز یې حکومت ته خبرداری ورکړ، که پر وخت سره د دوی غوښتنو ته رسېده‌ګي ونه کړي، نو پر غیر مدني حرکاتو به لاس پورې کړي.

په کندوز کې دوو معترضو نوماندانو، عزیزالله امیري او عبدالغفور هوتک په دې اړه رسنیو ته ویلي چې په دغه ولایت کې ډېرې درغلۍ شوې او که د دوی شکایتونه په سمه توګه ونه څېړل شي، نو دوی خپلو لاریونونو ته ادامه ورکوي.

دوی زیاته کړې: «له ابتدایي لېسته مخکې موږ خپل ټول اسناد او مدارک دولت او ټاکنیزو کمېسیونونو ته وړاندې کړي وو، رییس جمهور، اجرایه رییس او سیاسون د ظالمانو طرفداري کوي. زموږ اخري پرېکړه دا ده چې دوی عدالت نه‌غواړي، نو موږ هم د ریاست جمهوري انتخابات تحریموو.

څرنګه چې تاسو ته معلومه ده زموږ خلک په ډېرو سختو شرایطو کې ولاړل، خپلې رایې یې وکارولې، خو د خلکو رایو ته بې احترامي وشوه، نو موږ مجبور یو چې په غیر مدني حرکاتو لاس پورې کړو، ځکه تر اوسه پورې زموږ غوښتنو ته توجه نه ده شوې.» دغه معترض نوماندان او پلویان یې



وایي، که بایومټریک شوې رایې له غیر بایومټریک شویو هغو جلا نه شي، نو په هغه صورت کې دوی په کندوز کې د ټولو دولتي ادارو دروازې تړي.

د دغه ولایت د ولسي جرګې معترض کاندید ذبیح‌الله مجیدي په دې اړه رسنیو ته ویلي: «زموږ غوښتنه دا ده چې بایومټریک شوې رایې باید له غیر بایومټریک شویو رایو جلا شي او دغه راز ټولې رایې له سره وشمېرل شي او پرته له هغه موږ خپل مدني تحرکاتو ته ادامه ورکوو».

د یادونې ده چې له دې وړاندې هم دغو معترضو نوماندانو د تحصن خېمې په درولو سره په کندوز کې د ټاکنیزو کمېسیونونو دروازې تړلې وې او خبرداری یې ورکړی و، که په وخت سره د دوی وړاندیزونو ته پاملرنه ونه شي، نو د دغه ولایت ټولې لویې لارې به د ټرافیکو پر مخ وتړي.

# کابل کې د برېښنا پارچاوي او د چارواکو لارورکي

لیکنه: بي بي سي پښتو

د وارداتي برېښنا مزي د ټاکلي ظرفيت برېښنا لېږد لپاره غځېدلي، چې په دغو کېبلونو کې د وارداتي برېښنا د کچې د زياتولو امکانات نشته

کابل په ۲۰۰۳ ز کال کې شاوخوا ۱۲۰ مېگاواټه برېښنا ته اړتيا درلوده، خو هغه مهال يې يوازې ۷۰ مېگاواټه برېښنا لرله چې په هره درېيمه شپه به د پلازمېنې کابل اوسېدونکو د کورونو څراغونه روښانېدل.

۱۸ کاله وړاندې د کابل د ځينو سيمو برېښنا د سروبي، نغلو او ماهيپر له برېښناکوټونو او يوه برخه يې له ډيزلي جنراټورونو چمتو کېده.

خو په ۲۰۰۹ ز کال کې د ۸۰۰ ميليونو ډالرو په لگښت، کابل د گاونډيو هېوادونو له راغلي برېښنا سره وتړل شو او په را وروستيو کلونو کې برېښنا يوځه ښه شوه او ان د اوړي په شپو کې هم کابل مېشتي وگړي د ۲۴ ساعته برېښنا څښتنان وو.

د افغانستان برېښنا شرکت چې د برېښنا د وېش مسووليت لري، وايي، پلازمېنه ټولټال شاوخوا ۶۷۰ مېگاواټه برېښنا ته اړتيا لري، چې په خبره يې دوی اوس يوازې دغه ولايت ته ۴۴۰ مېگاواټه برېښنا چمتو کولی شي.

برېښنا شرکت چې سږ کال ژمی د برېښنا له کمي سره مخامخ شوی، د کابل برېښنا يې نوبتي کړې. په ۲۴ ساعتونو کې کابل مېشتي وگړي يوازې ۶ ساعته برېښنا لري.

**د چارواکو لارورکي**

د کابل درېيمې ناحيې اړوند دهمزنگ سيمه کې د برېښنا شرکت مامور داسې وايي: «موږ دوه ډوله برېښنا لرو: يعنې له برېښناکوټ نه دوه لاينه برق لرو، يو ۲۳ لاين دی او بل يې ۲۲ لاين دی. موږ په دغو دواړو لاينونو کې پارچاوي داسې تنظيم کړې ده چې پر دواړو لاينونو اضافي فشار رانه شي.»

۱۸ کاله وړاندې د کابل د ځينو سيمو برېښنا د سروبي، نغلو او ماهيپر له برېښناکوټونو او يوه برخه يې له ډيزلي جنراټورونو چمتو کېده.

د برېښنا په توليد او وېش کې کمساري لگښت، اړوند چارواکي لارورکي کړي دي، خو د افغانستان د اوبو او انرژۍ وزير بيا وايي، په وېشل شوې برېښنا کې هېڅ کمی نه دی راغلی، بلکې د ژمي په رارسېدو سره د برېښنا لگښتونه ډېر شوي دي.

**ډيزلي برېښنا**

د دغه وزارت چارسمبالی وزير محمد گل خلمي وايي: «زموږ د ښاريانو اړتياوې ورځ په ورځ زياتېږي، برېښنا هماغه برېښنا ده چې په دوبي کې مو لرله، خو چې ژمی پيل شي، پارچاوې ډېرېږي، وارداتي برېښنا خو نه شو زياتولی، نو يوازېنۍ لاره دا ده چې شته برېښنا مديريت کړو.»

**د وچکالۍ له کبله د اوبيزې برېښنا توليد ورځ تر بلې کمېږي**

وړاندې تر دې چې کابل ته وارداتي برېښنا راورسېږي، د پلازمېنې د اړتيا يوه برخه له ډيزلي برېښنا چمتو کېده، اوس د برېښنا شرکت مسوولين وايي، د وچکالۍ له کبله د اوبيزې برېښنا توليد ورځ تر بلې کمېږي او د حرارتي برېښنا توليد د تېلو د بيو په لوړېدو سره ستونزمن شوی دی.

د برېښنا شرکت عملياتي مشر وکيل ناصري وايي، د وارداتي برېښنا مزي د ټاکلي ظرفيت برېښنا لېږد لپاره غځېدلي چې په دغو کېبلونو کې د وارداتي برېښنا د کچې د زياتولو امکانات نشته. نوموړي زياته کړې: «د برېښنا پارچاوۍ ستونزه موږ او تاسو ته مالومه ده، وچکالۍ زموږ او تاسې د توليدي برېښنا د کچې پر راکمولو کې رول لرلی، د تېلو د بيې لوړوالي زموږ د حرارتي برېښنا پر دستگاوو منفي اغېز کړی او ورسره هغه ستونزه چې مزو کې د برېښنا د رالېږد لرو.»

د کابل د وگړو اوسنی شمېر د ۲۰۰۳ ز کال په پرتله ډېر شوی دی، خو ورسره د برېښنا په توليد او نورو هېوادونو په ځانگړې توگه له ازبکستانه د برېښنا پر وارداتو پانگونه هم شوې ده.

د کابل ۸۰ سلنه برېښنا له گاونډيو هېوادونو، تاجکستان، ازبکستان او ايرانه رالېږدول شوې ده.

د کابل ډېری اوسېدونکي د برېښنا د پارچاوۍ له کبله اړشوي چې ځان ته د لمريزې برېښنا اسانتيا برابره کړي، هغه هم د ژمي په داسې ورځو کې چې پر کابل واوره ورېدلې ده. محمدعارف د کابل اوسېدونکی وايي: «مجبور شو چې په توره شپه کې د برېښنا موندلو غم وخورو، جنراټور ډېر لگښت لري، سولري سيستم مو جوړ کړ.»

د کابل والي يعقوب حيدري هم په کابل کې د برېښنا بيه او وېش عادلانه نه بولي او وايي چې د کابل د ولسواليو د اوسېدونکو لپاره برېښنا يو خوب دی.

نوموړي وايي: «برېښنا بايد نوره د پارلمان د وکيلانو په خوښه ونه وېشل شي، زموږ برېښنا په کابل کې عادلانه نه ده وېشل شوې، که د کابل په پارچاوۍ کې لس دقيقې زياتوالی راشي د کابل ولسوالۍ به برېښنا ولري، ځکه چې ولسواليو کې يوازې د څراغونو لپاره برېښنا کارېږي، زموږ په جومات او کورونو کې هماغه ايليکاينونه دي.»

برېښنا شرکت چې سږ کال ژمی د برېښنا له کمي سره مخامخ شو، د کابل برېښنا يې نوبتي کړه. په ۲۴ ساعتونو کې کابليان يوازې ۶ ساعته برېښنا لري.

په ټوله کې افغانستان هر کال له ۲۵۰ تر ۲۷۰ ميليونو ډالرو برېښنا له گاونډيو هېوادونو په بيه اخلي.

د کابل ۸۰ سلنه برېښنا له گاونډيو هېوادونو، تاجکستان، ازبکستان او ايرانه رالېږدېدونکې ده. که پر کابل دا برېښنا درېږي، کابل تياره کېږي او په لنډ وخت کې د وچکالۍ غځېدو په کور د ننه د اوبيزې برېښنا د توليد د ډېرېدو هيلې کمې کړې دي.

# له ځنډ، ناندريو او تورونو وروسته د کابل د ټاکنو پايلې اعلان شوې




له څه کم درې مياشتني ځنډ وروسته د ټاکنو خپلواک کمېسيون تېره ورځ ناوخته د کابل ولايت د ولسي جرگې د ټاکنو پايلې اعلان کړې. د ټاکنو خپلواک کمېسيون غړو په يوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وويل چې له کابل ولايت څخه ۳۳ وکيلان ولسي جرگې ته په ابتدايي لېست کې بريالي شوي دي. د دوی په خبره ۹ ښځينه او ۲۴ نارينه نوماندانو له کابل ولايته ولسي جرگې ته لار موندلې ده.

کابل د هېواد له هغو ولايتونو دی چې تر ټولو ډېر نفوس لري او د نوماندانو شمېره هم پکې ډېره وه. په دغه ټاکنيزه حوزه کې د ټاکنو په بهير او بيا وروسته د رايو د شمېرنې په جريان کې د پراخ فساد او درغلۍ تور شته دی. د همدې تورونو او شکايتونو په لړ کې يو ځل د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون د دغه حوزې رايې باطلې اعلان کړې او د ټاکنو له خپلواک کمېسيونه يې وغوښتل چې دلته ټاکنې بيا ځلي ترسره کړي. خو د حکومت د مداخلې له امله د ټاکنو کمېسيون د رايو بيا شمېرنې ته ادامه ورکړه، چې پرون يې د دغو ټاکنو نتايج اعلان کړل.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون رييس عبدالبديع صياد هم اعتراف وکړ چې د ټاکنو په خپلواک کمېسيون کې ستونزې وې، ځکه له همدې امله د دغو پايلو په اعلان کې ځنډ راغی. بل پلو مدني فعالين، پر ټاکنو څارونکي بنسټونه او يوشمېر معترض نوماندان بيا وايي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون پخپله فساد ته زمينه برابره کړې وه. د دوی په خبره، دغه کمېسيون د رايو د بيا شمېرنې پر مهال فساد ته لار هواره کړه او دغه بهير د رايو د پلور او پېر په بازار بدل شو.

ورمه ورځ بيا د ولسمشر دويم مرستيال سرور دانش ويلي وو، چې د ټاکنو د پايلو ځنډ او په ټاکنيزو کمېسيونونو کې روان فساد او ستونزو د خلکو حوصله ختمه کړې ده. هغه په يوه غونډه کې د خبرو پر مهال وويل چې په دغو کمېسيونونو کې فساد او شته ستونزو ملت او دولت دواړه بې باوره کړي او يادو کمېسيونونو د خلکو حقوق تر پښو لاندې کړي دي. نوموړي ژمنه وکړه چې په ټاکنيزو بنسټونو کې به پراخ اصلاحات او تغيرات راولي، ځکه په خبره يې اوسنی کمېسيون له شته ستونزو سره نه شي کولی چې شفافې ولسمشريزې ټاکنې ترسره کړي.

د ولسي جرگې ټاکنې د روان کال د تلې په ۲۸مه او ۲۹مه ترسره شوې. هغه وخت ټاکل شوې وه چې ډېرې ژر د دغو ټاکنو پايلې اعلان شي، خو په اعلان کې ځنډ د دې سبب شو چې ولس له ټاکنيزو کمېسيونونو او حکومت ناراضه شي.

معترض نوماندان بيا د ټاکنو خپلواک کمېسيون په فساد تورنوي او وايي چې پرونی لېست هم له ډېرو ستونزو ډک دی.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون مشر عبدالبديع صياد وويل، حاجي اجمل رحماني، الحاج عبدالقيوم خيرخواه، فدامحمد الفت صالح، احمدجاويد جيحون، ډاکتر رمضان بشردوست، خان اغا رضايي، الحاج اميرگل شاهين، غلام حسين ناصري، الحاج ملا محمدجان احمدي، الحاج الله‌گل مجاهد، الحاج سيدمحمد محمدي، مير امان الله گذر، حاجي خانمحمد وردگ، الحاج قاضي مير افغان صافی، اجمل گلاب، احمد ضيا عظيمي شينوزاده، توفيق وحدت، عبيدالله کليمزی وردگ، حاجي حفيظ الله جليلي، حاجي محمدفرهاد صديقي، انورخان اورياخېل، حاجي زرگی حبيبي، حبيب الرحمان سياف، نجيب الله ناصر، وکيله فاطمه نظري، مرسل نبي زاده، شينکۍ کروخېل، روبينا جلالي، فوزيه ناصريار گلدره‌يي، مريم سما، سليمه نېکبين، زهره نوروزي، جنرال نظيفه ذکي، په ابتدايي لېست کې له کابل ولسي جرگې ته بريالي شوي نوماندان دي.

## ترکيې ته د ټرمپ خبرداری:

# که په کردانو بريد وکړي، اقتصاد به مو وځپو

د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ خبرداری ورکړی، که ترکيه په سوريه کې پر کردي ځواکونو بريد وکړي، متحده ايالتونه به ترکيه له اقتصادي پلوه وځپي.

ټرمپ ترکيې ته دا خبرداری په داسې حال کې ورکوي چې تازه ترکيې گواښ کړی چې په سوريه کې به د امريکا پر هغو متحدو کردي ملېشو بريد وکړي، کومې چې د داعش وسله والې ډلې پر ضد جنگېږي.

ټرمپ دغه راز په يو ټويټ کې کردي ځواکونو ته هم خبرداری ورکړی چې د ترکيې پر وړاندې دې له پارونکو اقداماتو ډډه وکړي.

نوموړي ويلي، د امريکا متحده ايالتونو له سوريې څخه د امريکايي سرتېرو ايستل پيل کړي او په عين حال کې په هغو پاتې سيمو کې په داعش پسې ورځي چې د دې وسله والې ډلې په کنټرول کې دي.

اسوشيټېډ پرېس خبري اژانس د امريکا د يو دفاعي چارواکي له خولې چې نوم يې نه دی اخيستل شوی، ويلي چې له سوريې يې د پوځي وسايلو ايستل پيل کړي دي.

دغه اژانس راپور ورکړی چې تمه ده په راتلونکو اونيو کې له سوريې څخه مېشت شاوخوا دوه زره امريکايي سرتېري و ايستل شي.

بلخوا د امريکا متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو هم منځني ختيځ ته په سفر راوتلی دی چې د بېلابېلو هېوادونو له مشرانو سره به له سوريې د امريکايي ځواکونو پر وتلو، د جمال خاشقجي پر مړينې او نورو مهمو موضوعاتو خبرې وکړي.

نوموړی د دغه سفر په لړ کې عربستان ته تللی او د دغه هېواد له چارواکو يې غوښتي چې د جمال خاشقجي وژونکي عدالت ته راکش کړي.

دا د پامپيو دويم سفر دی چې د عرب خبريال جمال خاشقجي تر وژل کېدو وروسته يې عربستان ته کوي.

جمال خاشقجي د ۲۰۱۸ ز کال د اکتوبر په دويمه په استانبول کې د سعودي عربستان د کونسلگرۍ دننه ووژل شو.

پامپيو مخکې له دې چې سعودي عربستان ته سفر وکړي، په قطر کې يې يوه خبري کنفرانس ته وينا هم وکړه.

نوموړي وويل: «موږ د سعودي له وليعهد او نورو چارواکو سره بحثونو ته دوام ورکوو، څو يقيني شي چې د جمال خاشقجي د نه منلو وړ قتل په برخه کې عدالت پلی کېږي. موږ به په دې اړه خبرو ته دوام ورکوو، څو ټول حقايق معلوم شي او عاملين د عدالت مېز ته راکش کړل شي.»

پامپيو وروسته له هغې عربستان ته ولاړ چې په دوحه کې يې له خپل قطري سيال شيخ محمد بن عبدالرحمن سره وليدل.

نوموړی تر اوسه مصر، بحرين، عربي متحده اماراتو او قطر ته تللی او له عربستان وروسته به کويټ ته هم ځي.

ډونالډ ټرمپ ويلي، له سعودي سره خپلې اړيکې او اتحاد ساتي، خو د امريکا سنا جرگې د سعودي عربستان وليعهد محمد بن سلمان د جمال خاشقجي په قضيه کې ښکېل بللی دی.


د سعودي حکومت بيا په دې قضيه کې د وليعهد محمد بن سلمان په تړاو هر ډول خبرې رد کړې دي.

## د کتـــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد


**درېیم څپرکی**
**پر ځان باور وکړئ**
**او وېره ووژنئ**




دلته دوه ځانګړې مسألې راځي چې د هغو په عملي کولو سره کولای شئ، د حافظې د بانک په سم مدیریت کولو سره پر خپل ځان باور زیات کړئ:
الف. بانک ته یوازې مثبت افکار وسپارئ. راځئ له قضیې سره سم چلند وکړو. ټول خلک له نهیلي کېدونکو او خپه کوونکو حالاتو سره مخ کېږي، خو د ناکامو خلکو مخ کېدل بیا بدل وي. ناکام خلک خبره زړه ته وړي. په خپلو ترخو تجربو پورې کلک نښلي او په حافظه کې ورته ښه پوخ ځای ورکوي. بیا یې بېخي له ذهنه ویستلی نه شي. د دوی ترخې خاطرې بیا وروستی شی وي چې دوی پرې د ویده کېدو پر وخت فکر کوي.
اپوته، بریالي او پر ځان باوري خلک هېڅکله ترخو خاطرو ته رجوع نه کوي، دوی تل هڅه کوي چې خپل ذهن ته مثبتې او خوږې خاطر وسپاري.
تاسې چې هر سهار کار ته ځئ، که د خپل موټر په کاربېټر کې لپه خاوره اچوئ، نو موټر به څنګه چالان شي؟ د موټر روغ ماشین به ډېر زر له کاره ولوېږي او تاسې چې ترې څه تمه لرئ، هغه کار به نه شي کولای. خپل ذهن ته منفي او ناسم افکار سپارل هم د خاورې مثال لري، ستاسې د ذهن ماشین خرابوي. منفي افکار تاسې د اندېښنو، بیوسۍ او حقارت د احساساتو تر بار لاندې له پښو غورځوي. نور خلک به ښه تېز پرمخ روان وي، خو ستاسې منفي افکار به ستاسې مخ ته لکه دیوال کلک ولاړ وي.
دا کار وکړئ: کله چې تاسې له خپلو افکارو سره یوازې یئ، نو خپلې مثبتې او خوږې تجربې رایادې کړئ. د خپلې حافظې په بانک کې مثبت افکار کېږدئ. دا کار مو پر ځان باور زیاتوي او په تاسې کې دا احساس زیاتوي چې (زه ډېر ښه یم)، دا احساس درسره بیا په روغتیا کې مرسته کوي.
دلته درته یوه لاره ښیوو. له ویده کېدو مخکې د حافظې بانک ته مثبت افکار وسپارئ. خپلې ښېګڼې وشمارئ، ټول هغه نعمتونه رایاد کړئ چې باید شکر یې پر ځای کړئ: ښځه، مېره، بچي، مور و پلار، خویندې وروڼه، روغتیا ... . نن مو چې کوم ښه کارونه کړي هغه ټول رایاد کړئ. خپلې لویې او وړې بریاوې رایادې کړئ. د خپل ژوند او خوشالۍ دلایل وشمېرئ.
ب. له عصبي بانکه یوازې مثبت افکار راواخلئ. کلونه مخکې مې په شیکاګو کې د ارواییې درملنې له یوې مشورتي ادارې سره کار کاوه. دوی په ډېرو مسایلو کار کاوه، خو ډېره مخه یې د ګډ ژوند او ارواییې جوړښت له مسایلو سره وه چې دواړه د ذهن اړوند دي.
یو ماسپښین مې له رئیس سره په دې موضوع بحث کاوه، چې اداره له ناجوړو خلکو سره د مرستې لپاره کوم تکتیکونه کاروي. رئیس راته وویل: (ته پوهېږې، که خلک یوازې په یوه اصل عمل وکړي، نو زما او ستا مرستې ته به هېڅ اړتیا و نه لري.)
ما په ډېر شوق پوښتنه وکړه: (کوم اصل؟)
ویې ویل: (منفي افکار دېته مه پرېږده چې ذهن ته مو بلا شي، له دې وړاندې یې ختم کړه.)
بیا یې خبره وغځوله: (موږ چې له چا سره مرسته کوو، زیاترو یې ځانته د ذهني وېرو یو موزیم خلاص کړی وي او ټولې ترخې خاطرې او وېرې یې پکې ایښې وي، مثلاً د ګډ ژوند ستونزې، د واده ستونزې، د هنې مون ستونزې ... په بل عبارت، د دوی هنې مون (د واده لومړۍ میاشت) ښایي دومره ښه نه وه، لکه څنګه چې دواړه ورته په تمه وو.
له دې سره بیا ښځه او مېړه دا ترخه خاطره نه هېروي، بلکې دومره یې ځانته لویه کړې چې اخر یې په ذهن او کورني ژوند کې، لکه لویه بلاه نازله شي او تر ټولو جالبه دا چې دا ستونزه له واده پنځه یا لس کاله وروسته را پیدا کېږي.
عموماً دوی دېته نه ګورې چې ستونزه چېرې ده؟ البته دا زما ستونزه ده چې د ستونزو ریښه باید پیدا کړم، مسأله ورته وڅېرم او هغوی پوه کړم چې دا موضوع څومره عادي او بې ارزښته ده.
انسان کولای شي چې نږدې له هرې ستونزې ځانته یوه ذهني بلا جوړه کړي.)
زما ارواپوه ملګري خبره وغځوله: (کاري ماتې، بیوفایي، مینه کې ماتې،ناکامې پانګونې، د بچو ناسم چلند .... دا ټولې هغه بلاوې دي چې زه یې له خلکو سره په ختمولو کې مرسته کوم.)
دا ښکاره خبره ده چې یو فکر په ډېر تکرار قوي کېږي او په یوې لویې ذهني بلا اوړي او پر انسان خپل باور ختموي، تر دې چې بلاخره د رواني ستونزو لامل شي.
مېرمن الیس مولکاهي دې وروستیو کې په کازما پولیتن مجله کې یوه مقاله خپره کړې ده او د مقالې عنوان یې (ځان ورانول) دی. دې مقاله کې ویل شوي چې هر کال له دېرش زرو ډېر امریکایان ځان وژنه کوي او سلګونه زره خلک د ځان له منځه وړلو لپاره اقدام کوي. په مقاله کې راځي چې: (هیښوونکي شواهد ښیي چې میلیونونه خلک ځانونه په چوپ او تدریجي ډول له منځه وړي. داسې خلک هم شته چې د ځان وژنې پر ځای خپله اروا له منځه وړي او د ځان رټلو، ځورولو او ټیټولو د لارو چارو په لټه کې وي.)
**دوام لري...**

# البرټ انشټاین

◀ حکمت ارین



په نبراسکا پوهنتون کې د تاریخ او فلسفې استاد جان براین د نوموړي په اړه وایي:
«انشټاین د ۱۸۷۹ ز کال د مارچ په ۱۴مه په المان کې زیږېدلی دی. البرټ هغه فزیکپوه و چې د نسبیت فلسفه یې پراخه کړه. هغه وروسته تر هغه شهرت پیدا کړ چې په ۱۹۲۱ ز کال کې یې د فوټو الکټریک په اړه خپله نظریه خپره کړه او نړیواله جایزه یې وګټله. انشټاین د ۲۰ مې پېړۍ تر ټولو ستر او غوره فزیکپوه ګڼل کېږي.
نوموړی هغه څوک دی چې د بشر په تاریخ کې یې د اوسنیو حالاتو مخنیوی کړی دی. هغه په خپل وخت کې په نړۍ کې د انسان دوستۍ له امله د هغه کار مخنیوی وکړ چې اوس یې موږ د بدو پایلو شاهدان یو. هغه پرمختګ غوښت، غوښتل یې چې نړۍ د ټولو لپاره یو ډول کور واوسي.»
د البرټ انشټاین مور او پلار سیکولر یهودان و، پلار یې هېرمن البرټ انشټاین نومېده چې وروسته یې د الکټرو کیمیا شرکت جوړ کړ. مور یې پاولین کوچ نومېده او د کور ښځه وه. د ماریا په نوم یې یوه خور درلوده چې له ده څخه دوه کاله کشره وه او د ماجا په نامه مشهوره وه.
البرټ انشټاین په لومړي ځل د مخفي قوې یا نه احساس کېدونکې قوې په اړه فکر وکړ او په ۱۲ کلنۍ کې یې د هندسې یو کتاب ولیک چې له ډېره حرصه به یې ورته د مقدس کتاب نوم اخیست. په ۱۲ کلنۍ کې البرټ انشټاین ډېر مذهبي و چې حتی د خدای په باره کې به یې سندرې لیکلې او زمزمه کولې به یې، خو چې کله یې ساینس ووایه، نو له خپل مذهبي نظر سره مخالف شو.
په ۱٦ کلنۍ کې یې خپل استادان حیران کړي وو چې یوه استاد یې ورته ویلي وو، که تا له هر څه سره وتلو، ته په وزن کې ورسره برابر یې.
په ۱۸۹۴ ز کال کې نوموړي څو ځله زدکړې پرېښودې چې لامل یې د پلار د کاروبار خرابېدل وو او نه یې شوی کولی چې د خپل زوی فیس پوره کړي.
پلار یې د نوموړي د فیس پوره کولو لپاره هرې خواته لاس واچاوا، خو بریالی نه شو. د انشټاین له مور سره یې تر مشورې وروسته دا پرېکړه وکړه چې د دوولسم ټولګي ازموینې لپاره د چمتووالي په موخه به یې سویس ته ولېږي.
وروسته انشټاین سویس ته لاړ او هلته یې د دوولسم ټولګي د ازموینو لپاره تیاری ونیو، څو مستقیماً په پوهنتون کې داخله واخلي. هغه په ریاضي او فزیک کې لوړې نمرې واخیستې، خو صرف په فرانسوي، کیمیا او بیولوژۍ کې ناکام شو.
انشټاین د خپل ژوند په اړه وایي:
«کله مې چې په سویس کې د دوولسم ټولګي د ازموینو لپاره چمتووالی نیو، پر دې پوهېدم چې په دغو مضامینو کې چندانې ښه نه یم او نه شم کولی چې ترې ووځم، خو بیا مې هم خپله ټوله هڅه وکړه، که څه هم پر ټکي نه پوهېدم. هغه وخت به مې دا فکر کاوه چې کاش یو چاته د هغه د خپلې خوښې مطابق پوهنځي کې د ازموینې زمینه برابرېدای، دا به څومره ښه وه. ما فزیک او ریاضیاتو کې ښه مطالعه هم لرله او پرې پوهېدم هم. کله مې چې ازموینه ورکړه، په ریاضیاتو کې مې خورا ښې نمرې یوړې، خو په فرانسوي، کیمیا او بیولوژۍ کې ناکام شوم. دا خبره هلته یو استاد چې ما په لومړي ځل لیدلی و، راته وکړه. سخت یې اندېښمن کړم، استاد نه مې په وار وار یوازې همدا پوښتنه کوله چې زه کولی شم بیا ازموینه ورکړم. استاد ویل زه ستا استعداد درک کوم. پوهېږې ته یوازینی مستعد کس یې چې زه دې وینم او ستا په څېر استعداد ما په بل کوم چا کې نه دی لیدلی. دلته ډېری داسې محصلین هم شته چې فارغېږي، خو ستا نیمایي استعداد هم نه لري.
نه پوهېږم چې زه یې هڅولم او که به همداسې وم. همدا استاد و چې زما سپارښتنه یې نورو ته کړې وه او زما په اړه یې ورسره خبرې کړې وې.»
استادانو چې د انشټاین په ریاضي کې عالي نمرې ولیدې، هغه ته یې په پولي تخنیک کې د داخلې اجازه ورکړه. د زده کړو په وخت کې انشټاین ډېر مضمونونه خپله ویلي وو او په مکتب کې به یې غیر حاضري ډېره کوله، چې دغه کار یې د استادانو غوسه را پاروله وه. د دغو استادانو له ډلې هنریچ وېبر ډېر په غوسه و چې له زده کړو وروسته انشټاین ترې د کار لپاره تصدیق غوښتی و او هغه د تصدیق ورکولو پر ځای رټلی او توهین کړی و.
انشټاین د خپل دغه استاد په اړه لیکلي، سخت لاس مې بند و، پلار مې په هغه وخت کې زما لپاره په دومره پیسو پسې ګرځېده چې زه ورباندې د دوولسم ټولګي ازموینو ته ځان چمتو کړم، خو هېڅ لوري ته یې لاس نه اوښتو. ښه مې په یاد دي چې یوه ورځ مې پلار د شپې ستړی راغی او مور نه مې یې پوښتنه وکړه، زوی مې چېرته دی؟ مور مې ځواب ورکړ چې ویده دی. زه ویده نه وم، ما هم په همدې اړه فکر کاوه چې پلار به مې اوس له یو چا دومره پیسې راپیدا کړې وي چې زه به د دوولسم ټولګي لپاره پرې امادګي ووایم، ښه انجنیر به یم او... خو کله مې چې د پلار ستړی غږ واورېد، چې ویل یې هېچا راسره مرسته ونه کړه، جټکه مې وخوړه. پلار مې له همدې خبرې سره چوپ شو، لکه ژړا چې ورغلې وي، وروسته یې په ترخه خندا وویل، څه خدای مهربانه دی.
فکر مې وکړ، سبا باید له ښوونځي نه یو تصدیق واخلم، څو یو ځای ترې په استفاده ځان ته یوه دنده پیدا کړم، پوهېدم چې وېبر به ځان اچوي او دا بدې به راسره کوي، ځکه نه پوهېږم هغه ولې ماسره کینه درلوده. خو لاړم ښوونځي ته، کله مې چې وېبر ولید، هغه راته وویل، ځغله نه ټولګي ته راځې او نه دې په ښوونځي کې وینم او اوس بیا راغلی یې د دندې لپاره تصدیق غواړې، تاته به کوم احمق دنده درکوي.
د ژوند ملګرې او مینه
انشټاین په ۱۹۲۰ ز کال کې له ماریک سره مینه شروع کړه چې د ماریک مور او پلار یې ورسره مخالفت وکړ او د مخالفت وجه یې مذهبي، ژبني او داسې نور توپیرونه وو. خو د وخت په تېرېدو سره له ماریک نه د لایزل په نوم د انشټاین بچی پیدا شو، خو د لایزل مالومات ونشول. ځینې خلک وایي چې سرې تبې نیولی و او مړ شو، خو ځینې نور بیا باور لري چې دوی چا ته ورکړی و، څو یې د اولاد په څېر ستر کړي.
له دې سره انشټاین د ژوند بدو مرحلو ته ورسېد، دنده یې نه درلوده او په همدې دلیل یې واده هم ونه شو کړی، د پلار کاروبار یې هم په ټپه ودرېد او له سخت افلاس سره مخ و، په دغه وخت کې انشټاین ماشومانو ته په کور کې درس وایه چې هغه دنده یې هم ډېره ژر له لاسه ورکړه.
پلار یې سخت رنځور شو، په دغه وخت کې د انشټاین د یو ملګري پلار خبر شو، نوموړی په همدې اړه لیکي، کله مې چې د پلار ملګری مارسل خبر شو، نو پلار سره مې یې ژمنه وکړه چې هغه به ماته په سویس کې دنده پیدا کوي، وروسته یې زه په سویس کې د منشي په توګه یو ځای وګومارلم.
پلار یې ورته وصیت وکړ چې له ماریک سره واده وکړي او خپل ژوند جوړ کړي، له دغه وصیت وروسته یې پلار هم له دې نړۍ سترګې پټې کړې او د ژوند ټولو ستونزو ته یې یوازې پرېښود. انشټاین به د نورو غمونو ترڅنګ د خپل پلار مرګ هم ډېر ځوراوه.
انشټاین بالاخره په ۱۹۰۴ ز کال کې د خپل تحقیق څلور پاڼې خپرې کړې، بله پاڼه یې په ۱۹۰۵ ز کال کې خپره کړه چې د همدې دورې د غوره فزیکپوه مکس پلنګ چې د اکوانتوم تیورۍ موسس و، توجه یې جلب کړه. همغه وو چې وروسته یې انشټاین د یو لېکچر ورکولو لپاره د سولویا کنفرانس ته وروغوښت.
له کنفرانس وروسته ډېرو پوهنتونونو انشټاین ته د دندې وړاندیز وکړ او له ۱۹۱۳ تر ۱۹۳۳ ز کال پورې یې په یوه پوهنتون کې د فزیک د څانګې د ډایرېکټر په توګه دنده پر مخ بېوه.
کله چې انشټاین دنده پیل کړه، ژوند یې هم خورا ډېر متفاوت شو او خپلو کارونو ته یې ډېر وخت پیدا کړ، فکر یې د خپلې ناچارۍ پر ځای نورو کارونو ته واوښت او هڅې یې پیل کړې، څو انسانیت او بشریت ته خدمت وکړي او د هغو پوښتنو ځواب پیدا کړي، کومې چې دې نوموړي په ذهن کې وې.
البرټ انشټاین بالاخره د ۱۹۹۵ ز کال د اپرېل میاشتې په ۱۸ مه په امریکا کې تر لنډې مودې ناروغۍ وروسته له دنیا سره مخه ښه وکړه او هملته خاورو ته وسپارل شو.
انشټاین په ۱۹۲۱ ز کال کې د نوبل جایزه واخیسته او په ۱۹۹۳ ز کال کې د نوموړي په لاس یو لیکل شوی لیک د امریکا په متحده ایالتونو کې په ۱۴ زره ډالره وپلورل شو. په دغه لیک کې یهودو ته د نازیانو له خوا متوجه ګواښونه په ګوته شوي وو. انشټاین چې فزیک کې یې د نوبل جایزه ګټلې، دا پیغام په نیویارک کې خپل یوه امریکایي ملګري او سوداګر هیمان زېن ته لیکلی و. په کلیفورنیا کې د مزایدې جوړوونکو ویلي وو چې د دوی تر اټکل په لوړه بیه دغه لیک پلورل شوی دی. په دغه لیکلي پیغام کې چې انشټاین پخپل لاس لیکلی، له هوایي ډګرونو څخه د یهودانو د تېښتې د هڅې په اړه فعالیتونه ستایل شوي دي. کله چې په ۱۹۳۳ ز کال د نازیانو مشر اډولف هټلر واک ته ورسېد، انشټاین له المان څخه چې خپل اصلي ټاټوبی یې و، د امریکا متحده ایالتونو ته وتښتېد. د نسبیت نظریې څښتن انشټاین په دغه لیک کې ویلي:
«د هغه مقاومت قوت د زرګونو کلونو لپاره چې یهودان یې ټینګ کړي وو، پر دودیز قوت او د طبیعت پر هغه احسان او مرستې ولاړ دی چې یهودان یې لري».
انشټاین هغه نوم دی چې اوس هم لکه لمر پر ټوله نړۍ ځلاند دی او نوم یې د ټولو خلکو لپاره مثال ګرځېدلی دی.

همیانی

# هغه څه چې پر ځان د باور پیدا کولو لپاره یې کولی شو

ژباړه: عطامحمد میاخېل

ایا کمزورتیاوې مو ستاسو د اندېښنې او خپگان سبب شوې دي؟ که چېرې مو ځواب هو وي، نو اوس يې وخت را رسېدلی چې له ځان سره د هغه څه په خاطر چې یاست، مینه ولرئ او پر ځان باندې مین شئ. خپله غبرګ د خپلو کمزورتیاوو پرمخ پرانیزئ او ځان په هغه ډول چې یاست، په بشپړه توګه ومنئ.

يو له هغو څیزونو څخه چې زموږ د پرمختګ پر وړاندې خنډ ګرځي، دا دی چې نه شو کولای له ځان سره مینه ولرو، موږ ځان د بریا وړ نه ګڼو، ځکه چې پر دې باور يو چې ډېرې زياتې نیمګړتیاوې لرو. د دې لیکنې په دوام ۷ هغو ټکو ته اشاره کوو، څو وکولای شی خپلې نیمګړتیاوې په پرانیستې غېږه ومنی.

**۱ ــ خپلې وړتیاوې مو وپېژنئ**

وړتیاوې او هغه ښه څیزونو چې لری یې، ویې پېژنئ. دا وړتیاوې ډېرې زياتې دي، ښايي ویې نه پېژنئ، خو شته دي.

د دغه کار لپاره یوه تګلاره شته، هغه دا چې په هغو څیزونو پسې وګرځئ، له کومو سره چې مبارزه نه کوی او یا هغو څیزونو پسې هڅې وکړی چې نور خلک يې ستاسو په اړه ستاینه کوي. کله چې هغو څیزونو ته چې په ترسره کولو کې يې ښه یاست، ګورئ، نو په تاسو کې د نورو کارونو د ترسره کولو لیوالتیا هم پیدا کېږي.

**۲ ــ له خپلو موخو سره مخامخ شئ**

د ځان لپاره موخې وټاکئ او ورسره مخامخ شی. په حقیقت کې باید یو کار پیل کړی، د هغو څیزونو په اړه فکر کول چې غواړی ترسره یې کړی، څو چې نه مو وي پيل کړی؛ یوازې ستاسو حالت خرابوي.

کله چې مو یوه موخه مشخصه کړه، نو د ترلاسه کولو لپاره يې ډېرې زياتې هڅې وکړئ، دغه راز تل په یاد لری چې موخې مو باید معقولې وي، داسې نه چې ورته رسېدل د کوه قاف غره ته ختل وي.

د مالکلوم ګلډول په نامه یو مشهور کس فرض کوو، چې خپلو مهارتونو ته د رسېدو لپاره یې زر ساعته مصرف کړل. نو که چېرې غواړی چې د ۵ کلونو په لړ کې ۸ بېلابېلې ژبې زده کړی، یوازې ځان ناهیلی کوی.

**۳ ــ له خپلو ماتو څخه عبرت واخلئ**

ماتو ته د یوې ماتې په خبر د لیدلو پر ځای، هغو ته د زده کړې او عبرت لپاره د یو فرصت په سترګه وګورئ. یو ناسم کار مو ترسره کړی دی، نو اوس ډاډه یاست چې هغه کار ناسم و او په ډېرې اسانۍ سره کولای شی، پوه شئ چې کوم کار سم دی.

په ژوند کې مو چې هر څه ناسم پرمخ ځي، دا ومنئ چې د اصلاح او عبرت اخیستلو لپاره دا هرڅه یو فرصت دی.



**۴ ــ هڅه وکړئ، حتا کله چې داسې احساس کوی چې نه ش کولای یا کوم کار باید ترسره نه کړی**

کله داسې فکر کوو چې واقعاً نه شو کولای، چې دا کار ترسره کړو، ځکه یو ځل مو ناسم ترسره کړی دی، دا د فکر یوه ناسمه بڼه ده. پر ځای د دې چې د څیزونو ازمویلو ته اجازه ورکړو، له ځان سره وایو، یو ځل دې ناسم ترسره کړی دی، بیا یې نه شې ترسره کولای.

که چېرې نه شی کولای چې نوي څیزونه وازمایئ، نو هېڅکله به ونه شی کولای چې پرمختګ وکړی.

**۵ــ له هغو کسانو سره چې له تاسو سره د زړه له کومې مینه لري، خبرې وکړئ**

که چېرې واقعاً د ځان په اړه د ښو څیزونو له لیدلو سره ستونزه لری، نو له هغه چا سره چې واقعاً له تاسو سره د زړه له کومې مینه لري، خبرې وکړئ. هغه ته ووایئ چې څه وخت مو ډېرې سختۍ تېرې کړې دي، هغه به داسې یوه لاره درته پیدا کړي چې تاسې نور له دغه حالت څخه چې ستاسې نه خوښېږي، خلاص کړي.

ډېر وخت زموږ لپاره دا ډېره سخته ده چې د ځان په اړه ښه څیزونه وینو او پوه شو، خو هغه کسان چې له موږ سره د زړه له کومې مینه لري، د دې څیزونو په لیدلو کې بې ساري دي.

**٦ ــ کله چې اړتیا لری، استراحت وکړئ**

کله چې یو وضعیت یا کار ستونزمن کېږي، یو لنډ او چټک استراحت وکړئ، څو خپله ساه تازه کړی او ځانته د دې یادونه وکړی چې کولای شی، دا کار ترسره کړی.

حتا کله چې ذهن ته مو د استراحت فکر راځي، نو ښه ده چې استراحت وکړئ، څو وکولای شی خپله اراده پیاوړې کړی او له سره تصمیم ونیسی.

**۷ ــ هغه کار چې واقعاً پرې باور لری، ترسره یې کړئ**

یوه بله تګلاره چې په مرسته یې کولای شی پر ځان باندې باور پیدا کړئ، دا ده هغه کار چې پرې باور لری، ترسره یې کړئ.

هغه کار چې فکر کوی ډېر زیات مهم دی چې ترسره شي، ترسره یې کړئ. لکه: د ناروغی پرمهال د روغتیا پال (ډاکتر) لیدنه، له پوهنتون څخه د ښو نمرو ترلاسه کول، یا له بد معاشانو څخه د خپل ورور ساتنه او ځینې نور. مهمه نه ده چې پر کوم څه باندې څنګه باور ولری، یوازې پرې اعتماد وکړئ.

کله چې ډاډه شوی، هغه کار چې باید ترسره شي، ترسره یې کړئ او د ترسره کولو پر وخت یې له اړتیا پرته له چا مرسته هم مه غواړئ.

## ایران: له داعش سره د مبارزې په موخه له طالبانو ملاتړ کوو

د ایران د پارلمان د ملي امنیت او نړیوالو اړیکو رییس حشمت الله فلاحت پېشه وايي، په اوسنیو شرایطو کې مجبور یو چې د داعش پر ضد له طالبانو سره همکاري وکړو.

نوموړي دغه څرګندونې له ایراني رسنیو سره په مرکه کې کړې او له طالبانو سره د دغه هېواد له اړیکو او خبرو اترو یې دفاع کړې ده.

هغه زیاته کړې: «کوم هېواد چې له مذاکراتو سره مخالفت ښیي، هغه د سیاست په ډګر کې ډېر څه له لاسه ورکوي».

د هغه په خبره، مذاکرات د دوست او دښمن د رسمیت پېژندلو په معنا نه دي، د خبرو اترو له لارې کېدای شي اختلافات له منځه ولاړ شي.

نوموړي ویلي، ایران له طالبانو سره شخړې او اختلافونه درلودل چې د وخت په تېرېدو سره دغه اختلافات له منځه تللي دي.

د یادونې ده چې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د بلخ ولایت په مرکز مزارشریف ښار کې طالبانو ۱۱ تنه ایراني ډيپلوماتان وژلي وو.

خو د ایران د پارلمان د ملي امنیت او بهرني سیاست د کمېسیون مشر وايي، د ایراني ډیپلوماتانو او یو خبریال قاتلین وژل شوي چې دا قضیه ورسره له منځه تللې، خو حقوقي بحثونه يې لا پاتې دي.

هغه ادعا کړې چې طالبان په افغانستان کې پر یوه ځواک بدل شوي، ایران د طالبانو په پرتله له افغانستان څخه له سترو ګواښونو سره مخ دی او امریکا د داعش مشران افغانستان ته لېږدوي چې دغه کار ایران ته اندېښنې پیدا کړې دي.



هغه زیاته کړې: «په اوسنیو شرایطو کې موږ مجبور یو چې د داعش پر ضد له طالبانو سره همکاري ولرو، له همدې امله ایران په رسمي توګه له طالبانو سره مذاکرات وکړل او له دې مذاکراتو دفاع کوي».

نوموړی ټینګار کوي چې له طالبانو سره د ایران اړیکې د افغانستان د ثبات او د داعش ډلې د مخنیوي لپاره شوې دي.

هغه د دې پوښتنې په ځواب کې چې د افغانستان رسمي دولت او طالبانو سره خپلې اړیکې څه ډول ارزوي ویلي: «ایران په رسمي توګه اعلان وکړ، چې له طالبانو سره یې خبرې د افغان حکومت په همغږۍ کړې دي».

د یادونې ده چې له دې مخکې د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف هم د طالبانو پر ملاتړ څرګندونې کړې وې، خو د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ادریس زمان په ټویټر کې ظریف ته ګوتڅنډنه کړې وه او د هغه څرګندونې یې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه بللې وه.

هغه زیاته کړې وه، دې دواړو هېوادونو د دولتونو په کچه تر اړیکو پرته نورې اړیکې به د ایران او افغانستان اړیکې خرابې کړي.

## اېکسپرېس ټرېبیون: امریکا له طالبانو په افغانستان کې د اډو غوښتنه کړې

د اېکسپرېس ټرېبیون ورځپاڼې د راپور له مخې، امریکا له طالبانو په افغانستان کې د اډو غوښتنه کړې. که څه هم طالبانو په وار وار له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو ټینګار کړی او ویلي یې دي چې په دوبۍ او قطر غونډو کې يې له امریکایي لوري سره له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو خبرې کړې دي، خو راپورونه وايي چې امریکا له طالبانو په افغانستان کې د ځینو اډو غوښتنه کړې ده.

سرچینې ویلي چې اماراتو او سعودي عربستان له امریکا سره د سترې ونډې په بدل کې ژمنه کړې چې طالبان به د امریکایي لوري د غوښتنو منلو ته وهڅوي.



اېکسپرېس ټرېبیون د یو لوړپوړي امریکایي چارواکي له خولې چې نوم يې نه دی په ډاګه کړی، لیکلي چې امریکا هڅه کوي، څو پر طالبانو ځینې اډې ومنې. سرچینې ویلي چې امریکایي لوری به د دغو اډو په درلودو سره د افغانستان په امن کې هېڅ رول ونه لري، خو دا اډې یې د سیمې د ثبات لپاره مهمې بللې دي.

دا په داسې حال کې ده چې څو ورځې وړاندې پخواني ولسمشر حامد کرزي هم ویلي وو چې د افغانستان ستراتېژیک موقعیت ته په کتو، امریکا له افغانستانه د وتلو پلان نه لري.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۳۰ |
| € | ۸٦,۲۰ |
| Rp. | ۵۳٦ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹٦ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 12:00 |
| کابل - دوبۍ | 21:00 |
| کابل - ډهلي | 10:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۷ د مرغومي ۲۵مه | د ۲۰۱۹ د جنوري ۱۵مه | دویم کال | ۳۱۸مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۲۰ | ۲۱ | ۱٤ | ۲۰ | ۱۸ |
| -۵ | ۵ | ۵ | ٦ | ٦ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:٤٦ | لمر ختل ۰۷:۱۳ | ماسپښين ۱۲:۲۰ | مازيگر ۰۳:٤۹ | ماښام ۰۵:۲٦ | ماخوستن ۰٦:۵۳

## نړۍ



### ترکيې ته د ټرمپ خبرداری:
# که په کردانو برید وکړی، اقتصاد به مو وځپو

۳

## روسیه: د روسيې- جاپان ترمنځ په مذاکراتو کې د امریکا رول نامعلوم دی



وروسته له هغې چې په بهرنيو چارو کې د جاپان د لومړي وزير ځانگړي استازي د روسيې او جاپان ترمنځ د سولې تړون په لاسليک کې له متحده ايالتونو د مرستې غوښتنه وکړه، تازه روسيې ويلي چې په دغو خبرو کې امريکا گډون نه لري او له همدې کبله د دغه هېواد رول نامعلوم دی.

د روسيې د بهرنيو چارو وزارت وياندې ماريا زاخاروا ويلي: «دا چې متحده ايالتونه د روسيې او جاپان ترمنځ د دوو اړخيزو خبرو برخه نه دي، نو له همدې کبله په دغو خبرو کې د دغه هېواد رول هم نامعلوم دی».

نوموړې دغه راز ويلي چې جاپان هڅه کوي څو په دغو خبرو کې چين هم راگډ کړي، خو په خبره يې، دا څه د دوی لپاره نوي او عجيب دي.

نوموړې د روسيې له (يو) ټلويزيون سره په خبرو کې ويلي: «موږ په دوو اړخيزو خبرو کې له جاپاني لوري څخه د نوو هڅو شاهد يو، دوی له متحده ايالتونو څخه چې په دغو خبرو کې گډون نه لري، د مرستې غوښتنه کړې. متحده ايالتونه به څه وکړي؟ زموږ دوه اړخيزې خبرې به دوام کوي، خو په دغو خبرو کې د متحده ايالتونو رول نامعلوم دی.»

روسيه دا څرگندونې په داسې حال کې کوي چې تر دې وړاندې په بهرنيو چارو کې د جاپان د لومړي وزير ځانگړي استازي کاټسويوکي کاواى د تېرې سې شنبې په ورځ په واشنگټن کې هاډسن انسټيټيوټ ته په وينا کې له متحده ايالتونو غوښتنه وکړه، چې د روسيې- جاپان ترمنځ د سولې تړون په لاسليکولو کې ورسره مرسته وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د تېرې نومبر په ۱۴مه د روسيې ولسمشر ولاديمير پوتين او د جاپان لومړي وزير شنزو ابې په سينگاپور کې هوکړه وکړه چې د جنوبي کوريل لانجمني ټاپو وزمې په اړه، چې دواړه لوري يې د مالکيت دعوه لري، د ۱۹۵٦ ز کال د شوي تړون په هکله خبرې وکړي.

## د ايرانۍ الوتکې د لوېدو له امله ۱٦ کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې



د ايراني رسنيو د راپورونو له مخې، د دغه هېواد د کرج ښار په شاوخوا کې د پوځ اړوند ۷۰۷ بوېينگ ډوله الوتکه لوېدلې ده.

ايراني چارواکو ايرنا خبري اژانس ته ويلي، دغه الوتکه تېره ورځ سهار د کرج ښار په صفادشت سيمه کې لوېدلې چې ۱۵ تنه پکې وژل شوي او يو بل ټپي شوی دی.

د راپورونو له مخې، دې الوتکې له قرغيزستان څخه غوښه راوړه چې د خلکو د هستوگنې په سيمه کې لوېدلې ده، خو ايراني چارواکو ويلي چې تر دې مهاله يې د خلکو له کورونو د مرگ ژوبلې راپور نه دی تر لاسه کړی.

د دغه هېواد د پوځ د اطلاعاتو دفتر هم ويلي چې دې الوتکې له قرغيزستان څخه ايران ته غوښه وړه چې په کرج ښار کې لوېدلې ده.

تر دې مهاله د دې الوتکې د سقوط د لامل په اړه څه نه دي ويل شوي، خو په اخيستل شوو انځورونو کې ليدل کېږي چې الوتکه سوځېدلې ده.

د يادونې ده چې په ايران کې تر دې وړاندې هم ورته پېښې رامنځته شوې چې د نظاميانو په گډون پکې ډېر نور کسان هم وژل شوي دي.

## رئیس جمهور غنی: یکی از دلایل افراطیت این است که از اصل خویش دور مانده‌ایم



رئیس جمهور غنی تأکید می‌ورزد که بیگانه‌گان نباید سرمایه‌های معنوی افغانستان که این کشور را از افراطیت نجات خواهد داد به اشتباه بگیرند.

رئیس جمهور غنی با تأکید بر این‌که نباید داشته‌های معنوی افغانستان فراموش گردد، می‌گوید تصوف رهنمای جوانان افراطی است و این پدیده دینی را به ریشه‌های تشبیه می‌کند که به‌گفته او تا این ریشه‌ها قوی باشند درخت سقوط نخواهد کرد.

آقای غنی دیروز در نشست با پیروان اهل تصوف از آنان خواست تا از بهر تقویت این طریقت دینی دست به کار شوند و متون صوفیه را گردآوری و چاپ کنند.

آقای غنی تأکید کرد که برای آنانی که بهترین تحقیق را در پیوند به تاریخ تصوف در افغانستان انجام داده باشند، جایزه در نظر گرفته خواهد شد.


غنی گفت: «ما امروز برای وصل جامعهٔ ما آمده‌ایم و وصل جامعه ما در ابهام است، افراطیت یک دلیل‌اش این است که ما از اصل خود دور شده‌ایم، به سوء هر تعبیر مراجعه می‌کنیم در حالی‌که جوانان را باید بیشتر رهنمایی کنیم، مشکل در این‌جا است که امروز جوانانی که به افراطیت رو می‌آورند فکر می‌کنند که ریشه ندارند».

غنی با انتقاد از این‌که در بخش تصوف در افغانستان کار چندانی نشده‌است می‌گوید در حالی‌که کشورهای بیرونی به داشته‌ها و چهره‌های معنوی چون مولانا جلال‌الدین بلخی افغانستان برخورد شان فخر آفرینی می‌کنند، اما افغانستان روز تا روز در این بخش با فقر فرهنگی و معنوی روبه‌رو شده‌است.

وی خطاب به وزارت‌های اطلاعات و فرهنگ، تحصیلات عالی و معارف گفت که باید تصوف در نصاب فرهنگی افغانستان جا داده شود.

## ژوند

## طبيعي ژوند او د انسان پر روح يې اغېزې



انسان طبيعي موجود دی او د وجود ساعت يې په طبيعي شپې ورځې پورې تړلی، هغه څه چې مصنوعي او ټکنالوژيکي پرمختگ گډوډ کړي دي .د کلوراډو پوهنتون د خوب او کرونوبيولوژي ځانگې مشر کينټ ورايټ وايي: «زموږ معاصر چاپېريال زموږ دننه طبيعي ساعت گډوډ کړی، خو چې موږ کله ويده شو، دا لا هم زموږ د وجود په داخلي ساعت پورې تړلې مسئله ده چې په گډوډېدو يې خوب خراب شوی».

نوموړی سپارښتنه کوي چې د اونۍ په رخصتيو کې د ټکنالوژۍ له نړۍ لرې طبيعي ژوند ستاسو د وجود گډوډ شوی ساعت بېرته سمولی او خوب مو منظم کولی شي. ورايټ وايي، دا تجربه يې په اوړي کې هم څو ځلې تکرار کړې او ورته لاسته راوړنې يې لرلې دي. د کلوراډو پوهنتون دغه څېړونکی وايي، موږ هر چا ته نه وايو چې د ښه خوب په خاطر دې اوس غره په غره وگرځي، بلکې ښه دا ده چې په خپل ورځني ژوند کې طبيعي برخه ور زياته کړو. نوموړی وايي، واړه واړه کارونه ستاسو په معاصر ورځني ژوند کې طبيعي تومنه زياتولی شي. د ورځې لمر ته ځان ښکاره کړئ، پارک او طبيعت ته نږدې قدم ووهئ، له څراغونو، کمپيوټر، موبايل او نورو برېښنايي وسايلو لرې يو څه وخت تېر کړئ.

## کورکمن مو له سرطان څخه ژغوري



زرد چوبه يا کورکمن (Turmeric) په ځينو هېوادونو کې د پخلنځي مهمه برخه گڼل کېږي، خو ډېر لږ خلک د دغه بوټي له روغتيايي گټو خبر دي. زرد چوبه په بدن کې د سرطان په څېر د مهلکو ناروغيو پر وړاندې مقاومت کوي او سرطاني حجرات له منځه وړي. کورکمن د روغتيا لپاره ډېر زيات اړين دی؛ ځکه چې دغه خواړه په بدن کې د کيمياوي موادو او يا هم له حجرو وتونکي اضافي مواد، کوم چې د انسان پر روغتيا ناوړه اغېز کوي، پر وړاندې يې مقاومت کوي او د زيان مخه يې نيسي. کورکمن د خپلو طبيعي خاصيتونو له امله په وجود کې د ناروغۍ پر وړاندې د دفاع دنده پر غاړه اخلي. په ځانگړي ډول د ټپونو د مېکروبي کېدو د مخنيوي خاصيت يې د سرطان ناروغۍ مخه نيسي او هغه سرطاني حجرات چې د کورکمن پر وړاندې جگړه کوي، په خپله له منځه ځي. په لومړي ځل کله چې د سرطان مېکروب بدن ته داخلېږي، نو په بدن کې شته کورکمن د خپلې دفاعي وړتيا په مرسته دغه مېکروب له منځه وړي. سرطاني مېکروب هغه مهال په بدن کې خپرېږي چې په بدن کې د کورکمن اندازه له ځانگړې اندازې څخه کمه وي.